# ځوان شهید

لیکوال: داکتر معمار حشمت الله اتمر

پیخلیک: چنګابن / کال ۱۴۰۵لیږدی

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوان شهيد

...............

**لیکي پوهه:**

**سرلیک:** ځوان شهيد

**لیکوال:** ډاکټر معمار حشمت الله ,, اتمر ،،

**ایډیټور:**

**د پښتنی ډیزان:** ډاکټر معمار حشمت الله ,, اتمر ،،

**خپرندوی:**

**چاپشمېر:** ۳۰

**چاپ نېټه:** چنګاښ / کال ۱۴۰۵

**واتس اپ:** +۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸

**بریښنالیک:**

atmar_hashmatullah@yahoo.com

د چاپ حقوق له لیکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ ښوونې ترې د ګټې اخیستنې اجازه نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوان شهيد

...............

# لړليک

سرليک چوپړی

پخښنتی........................................................................ ۱
بسم الله الرحمن الرحيم .......................................................... ۲
ليکي پوهه:...................................................................... ۳
لړليک ........................................................................... ٤
تراڼ (پيل، شروع، بريد)........................................................ ٥
د يادښتونو له پاره:............................................................... ۷
کيسه، داستان يا ناول: ........................................................... ۸
د چاپ شويو کتابونو لېست....................................................... ٥٥
د کار لاندې کتابونو لېست ....................................................... ٥۹
د امکان او وخت په صورت کې.................................................. ٦۰
د پخښنتی څېړ ................................................................... ٦۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوان شهيد

...............

## ترانړ (پيل، شروع، بريد)

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ، الْحَمْدُ لِلَّهِ إجْلَالًا لِقُدْرَتِهِ، وَ لَا إلَهَ إلَّا اللَّهُ خُضُوعاً لِعِزَّتِهِ، وَصَلَّى اللَّهُ عَلَى مُحَمَّدٍوَآلِه .

بې پايه ستاينه او بې حده مننه، د هغه سپېڅلي ذات نه چې د وجود مانۍ او کاينات يې د انساني وجود د تکامل او د انسان له پاره د خپل سپېڅلي ذات او عبادت د حقيقت له پېژندلو پرته جوړ کړل. هغه د ذات پوهه، عالي، لوړ او ښکلي نومونه دي، او کائناتو د پيداينت يوه حتمي لامل دی. عظمت، د تولې نړی موجوديت، د ناڅاپه څخه راوتل، حق د رسيدو جوهر په يوه والي کې د اعتراف، تباهی او بې وسی يوه له لوړو وسيلو څخه دی.

**ګرانو لوستونکو!**

دا ځل مې و غوښتل يوه بل حقيقي داستان (کيسه يا ناول) چې په کابل ښار کې پيل شوې او بيا نورو ولايتونو ته غزېدلي د خپلو کتابونو مينه والو او لوستونکو سره يې ګډ (شريکه) کړم.

زما د کتابونو مېنه وال يوازې معماران او انجينران نه دي، نه بايد اوسي، نوځکه غواړم ورځ په ورځ د خپلو ليکونو کې توپير راوړم چې د هرې ځانګې مېنه وال په کې ډېر شي، دا کار به ما دېته اړ کړي چې ليکنې مې توپير و لري او هم به مې مينه وال ډېر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوان شهيد

...............

**پاکه ربه!**

زموږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو موږ له تا پرته بل څوک و نه وینو او نه يې پېژنو. زموږ سره مرسته و کړه تر څو مو په وجود کې د غرور نخښه پاتې نه شي او د اسلام د دين له سپېڅلو بنده ګانو څخه مو و بولې.

**يادونه:**

- د نظر ټولو خاوندانو او هغه څوک چې دا کتاب لولي په ډېر درنښت هيله کيږي چې، خپلې غوښتنې او وړانديزونه د دې کتاب د بيا کتنې له پاره، زما سره ګډ (شريکه) کړئ.

Whatsapp: ٠٠٩٣٧٩٩٣٧٦٩٩٨

په در نښت

ډاکټر معمار حشمت الله اتمر

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د يادښتونو له پاره:**

۱- ..........................................................................

۲- ..........................................................................

۳- ..........................................................................

۴- ..........................................................................

۵- ..........................................................................

۶- ..........................................................................

۷- ..........................................................................

۸- ..........................................................................

۹- ..........................................................................

۱۰- ........................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوان شهيد

...............

**کيسه، داستان يا ناول:**

هغه پوره ۵۶ کاله د مخه ياني په کال ۱۳۴۷ د کابل ولايت په اوومې سيمې (ناحې) په يوې ديندار او منځمحاله ژوند لرونکي کورنۍ کې دې دنيا ته سترګې خلاصې کړې.

پلار يې د هغه وخت په دولت (حکومت) کې ماموريت دنده تر سره کوه او مور يې بې زده کړې او د کور په کارونو بوخته وه.

د هغه په راتګ سره، هغه کورنۍ ډېره خوشحاله شوه.

هغه درې ورونه او څلور خوېندې هم درلودې چې دی د کورنۍ تر ټولو کشر اولاد او د خلکو په خبره نازدانه او د سيمې درې ژبو په وينا پس کړکي و.

دا په دې مانا (معني) چې د هغه کورنۍ نور اودلاد، دې دنيا ته را نه وړ.

ژوند خوشحاله او په سمې توګه مخ ته، ته.

هغه به هر چا نازاوه او پر ټولو ډېر ګران و.

څه موده تېره شوه.

هغه په خپوړو راغی.

ژر، ژر به يې خپوړې کوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځوان شهيد

...............

بيا يې لږ، لږ ويل ياد کړل.

ډېره خوږه ژبه او ښکلی غږ درلود.

لږ، لږ په ودرېدو شو.

هغه نور هم د کورنۍ پر غړو ګران شو.

هغه ته خدای ښه صورت هم ورکړی او په څېره کې غنم رنګې او غټې، غټې سترګې، جګه پوزه، کوشنۍ خوله او ګرد مخ يې درلود.

بيا څه ځنډ وروسته هغه پر لارې تګ، پيل کړ.

ګامونه به يې ورو، ورو پر ځمکې اېښودل.

بيا لږ نور هم لوی شو.

ګامونه به يې نږدې ولې ژر، ژر اېښودل.

بيا به يې سمې منډې وهې.

د کوټې نه د باندې وته او انګړ کې به ګرځېده.

په انګړ کې يې د تره ځامنو کوم چې د هغوی سره په انګړ کې اوسېدل، لوبې کوې.

هغه د خپل پر تره ځامنو، لورګانو، تره او د تره پر ښځې هم ګران و.

شپږ کاله تېر شوو.

هغه د ښوونځي تګ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوان شهيد

...............

کورنۍ يې هغه په ښوونځي کې ګډ (شامل) کړ.

ښوونځی د هغوی کور ته نږدې نه وه.

لرې و.

هغه به د سيمې نورو الکانو سره ښوونځي ته، ته او بېرته را ته.

هغه ښه ذهن (استعداد) درلود.

د ښوونځي سره يې هم ډېره مينه درلوده.

هغه په سيمې کې ډېر ملګرې و موندل.

کله نا کله به يې د هغوی سره ښوونځي نه وروسته لوبې کوې.

يوه د هغه له نږدې ملګرو نه چې درې کوره بره ژوند کاوه او نوم يې عبدالله و.

دوې دواړه به ښوونځي ته يوه ځای تلل او بېرته، يوه ځای راتلل.

هغوی خورا خواږه ملګري وو.

هغه لږ لوی شو.

مشره خور يې واده شوه.

څه موده نوره هم تېره شوه.

د هغه پلار ته ناروغي پيدا شوه.

کال وروسته هغه خپل پلار د لاسه ورکړ.

د کور خرڅه (خرچه) يې د هغه د مشر ورور پر غاړې شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځوان شهید

...............

هغوی څه حاصلات د خپلو ځمکو نه تر لاسه کول کوم چې د لغمان ولایت، قرغه یو په سیمې کې یې شتون درلود.

دا ځمکې هغوی ته د پلارنو او نیکونو نه، په میراث پاتې وې.

ژوند تریخېده، خو بیا هم په خوشحالۍ سره تېرېده.

هغوی په خپل ژوند کې خوشحاله وو.

ژوند مخ ته، ته.

په هېواد کې حالات ورځ تر بلې بدلېدل.

امنیت ورځ تر بلې ورانېده.

راز، راز ګونګسې به اورېدل کېدې.

چا به ویل:

پلانۍ ولسوالۍ د دولت له کنټرول نه وتې او د مجاهیدینو لاس ته ورغلې ده.

د بي بي سي د راډیو غوږ نیونکي ورځ تر بلې ډېرېدل.

هېواد ته بهرني کوتونه (قوتونه)چې د پخواني شوروي اتحاد پورې یې اړه درلوده، د وخت دولت پرغوښتنلیک زمونږ هېواد ته د ننه شوو.

په حقیقت کې هغوی زمونږ پر هېواد، یرغل وکړ.

په سل هاو ټانکونه، توپونه، چورلکې او جېټ الوتکې سره د څه باندې ۱۲۰۰۰۰(یو لکو شل زره) عسکرو نه ډېر هېواد ته، ننوتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جګړې نورې هم سختې شوې.

ټک او راټک کليو او بانډو ته ستونزمن شو.

له يوه ځايه بل ځای ته ټک د عسکرو کتارونو (قطارونو) اوټانکونو سره پيل شوو.

راکړه ورکړه او سوداګريزې چارې ډپه يا ټکنۍ شوې.

ټک او راټک ولايتونو ته د ځمکې پر عوض اوايي (فضايي) يا د الوتوکو په واسطه (ذريعه) ورځ تر بلې ډېرېده.

کلي او بانډې د دولت له کنټرول څخه وتې او د مجاهېدينو په لاس، پرېوتې.

ورو، ورو جګړې ښارونو ته هم مخه وکړه.

بيا د پخواني شوروي اتحاد ځواکونو هم پر وتو پيل کړ.

هغوی هېواد کې ډېر ټانکونه، توپونه، چورلکې او جګړيزې الوتکې ، سرتېرې له لاسه ورکړل او سلګونه نور يې ټپيان شوو.

ډېره غټه اقتصادي ضربه يې ولېده.

د شوروي اتحاد د پاشېدل کېدو لاره اواره (همواره) شوه.

کال بل تېر شو.

بيا بلې خوا له تورخم نه، ننګرهار خوا خونړۍ جګړه پيل شوه.

جګړه تر ښاره ورسېده.

په سل هاو ځوانانو خپل ژوند، د لاسه وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوان شهيد

...............

ډېر خلک په کې ټپيان هم شوو.

کورونه، ودانۍ او دوکانونه په کې ويجاړ شوو.

ټولو به سوچ کوه چې جلال آباد ښارد مجاهدينو پر لاس پرېوت.

خو داسې نه شو.

د هغه وخت حکومت وتوانيد، مجاهدين پر شا وتمبوی او ټولې سيمې د هغو نه، بېرته آزادې کړي.

جګړه له کومه ځايه (تورخم نه) پيل شوې وه، بېرته په شا (څټ) شوه.

دا جګړه کومه ستونزه يې حل نه کړه.

بيا جګړې ډېرې شوې.

په نړيواله کچه هم هلې ځلې ډېرې شوې.

حکومت په دي پوی شو چې جګړه د حل لار، نه ده.

بيا يې ملې مصالحه اعلان کړه.

څه بدلونونه (تغييرات) په کابينې کې هم راغلل.

دريځ ورځ تر بلې نرمېده.

مجاهدين قدرت نيوو ته چمتو کېدل.

د حکومت مشرتابه استعفا ورکړه.

په پاکستان کې د مجاهدينو تر منځ موقتي حکومت جوړ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوان شهيد

...............

د غوايي اتمه نېټه شوه.

سياسي قدرت مجاهيدينو ته ولېږدول شو.

حضرت صبغت الله مجددی د افغانستان اسلامی جمهوريت د جمهور ريس په توګه د دوو مياشتو له پاره وټاکل شو.

بيا دوو مياشتو وروسته استاد برهان الدين رباني سياسی واک ( قدرت) ته ورسېد.

د هغه وخت هم څلور مياشتې له مخه، ټاکل شوی و.

څلور مياشتې پوره شوې.

هغه خپل واک د شورای اهل حق وعقد تر نامه لاندې اوږد کړ.

دا کار د نورو تنظيمونو منلو وړ نه و.

کورنۍ جګړې پيل شوې.

خلک به د يوه ولايت نه بل ولايت ته، کډې کوې.

ځينو نورو به د کابل يوې سيمې نه بلې ته تلل.

څو ورځې نورې تېرې شوې.

د هغه د ترور (تورۍ) زوی چې په پاکستان کې اوسېده کابل ته راغی او د هغه کورنۍ سره يې دوې شپې وکړې.

بيا هغه ځوان ته بلنه ورکړه تر څو د هغه سره پاکستان هېواد د چکر له پاره، لاړ شي.

هغه خپلې ترور ته و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوان شهيد

...............

اجازه ورکوئ چې ترورځی د څه وخت له پاره د ځانه سره پاکستان ته بوزم.

دلته هسې بنوونځي نه شته.

لږ څه ساعت به يې تېر شي.

بل هېواد به هم و ګوري.

د بلې خوا د خپلې ترور او د ترور زامنو سره به هم بلد شي.

ترور يې و منه.

شپه تېره بيا سهار شو.

سهار لمانځه نه وروسته چای و ښبل شو.

بيا هغوی دواړو خدای پاماني واخيسته او د کوره و وتل.

لمړی د سيمې پوخ سړک ته ورسېدل.

التته په موټرو کې سپاره د ښار مرکز ته لاړل.

بيا د هغه ځای نه په پښوو روان او د پل محمود خان خوا ته لاړل، کوم ځای نه چې د پېښور موټرو تګ راتګ کاوه.

اوا(هوا) ښکلې او د مني موسوم وه.

هرې خوا چوپه، چوپتيا وه.

ونې شنې او ګلان هرې خوا غوړېدلي وو.

هغوی هم په يوه سپين فلنکوچ موټر کې کښېناستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوان شهيد

...............

موټر ډېر ژر ډک شو.

څو دکيکې وروسته يې د پېښور پر لور حرکت و کړ.

لاري پخې او کنډوکپرې وې.

لمړی جلال آباد، وروسته تورخم، بیا پېښور ته ورسېدل.

ماسپښين و.

دهغه ځای نه هغوی د ناصر باغ کمپ په موټرو کې کښېناستل او ټاکلي سيمې ته ورسېدل.

هغه ډېر ستړی شوی او یواځنی اوږد او بهرنی سفر يې وه.

هغوی انګړ ته د ننه شوو.

ترور زوی يې هغه د خپلې مور او نورو ورونو سره آشنا (معرفي، بلد) کړ.

د غرمې ډوډی تياره وه.

هغوی ډوډی وخوړه.

بیا چای ورسېد.

چای هم د تورې ګوړې سره و څښل شو.

التـه اوا(هوا) توده وه.

بیا ترور زوی يې هغه ته و ويل:

دلته اوا(هوا) توده ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځه!

د ځېرې لاندې پر کټ بيده شه.

هم به دې ستومانتيا و وځې او هم به اوا(هوا) لړه سړه شي.

بيا به په بازار کې وګرځو.

مېوې به وخورو او تر ماښامه به چکر و وهو.

هغه ومنه.

پر کټ پرېوت او بالښت يې يې تر سر لاندې کېښود.

څو دکيکې لا نه وې تېرې شوې چې هغه بيده شو.

ترور زوی يې هم بلې خوا پر ځمکې سر کېښود او بيده شو.

مازيګر شو.

هغوی دواړه له خوبه پاڅېدل.

اودسونه يې وکړل او بيا د انګړ نه د باندې شوو.

لمونزونه يې په جومات کې ادا بيا بازار ته لاړل.

په بازار کې د هغه مشر ترور زوی ميوې خرڅوې.

هغوی الته لاړل.

د هغه سره يې روغبړ وکړ.

بيا د هغه تر څنګ کېنېناستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوان شهید

...............

هغه هم ورته ډک غاب د مېوې کېښېښود او هغه پر خوړو يې پيل کړ.

بيا په بازار کې اخوا دېخوا و ګرځېدل.

ماښام لمانځه نه وروسته کور ته لاړل.

د شپې ډوډۍ خوړو نه وروسته بيده شوو.

هغه الته څه کم يوه مياشت پاتې شو.

الته يې وخت ښه تېرېده.

ملګري يې و موندل.

بيا  هغه بېرته خپل ترور زوی سره کابل ته، راغی.

کابل کې ورور يې، واده کړی و.

د ناوې په ليدو سره هغه هک پک پاتې شو.

هغه خپلې مور ته و ويل:

وخت هم څومره ژر تېرېږي.

مور يې و ويل:

هو!

لکه باد غوندې چلېږي.

په دې ورځ د باندې و نه وت.

سهار له کوره و وت او خپل ملګري کور ته لاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوان شهيد

...............

دروازه يې وټکوه.

ملګرى يې (عبدالله) دروازې ته راغى.

د هغه په ليدو سره ډېر خوشحاله شو.

بيا يې هغه ته د کور ننوتو بلنه ورکړه.

د ننوتو دروازې نه تر کوټو(خونو) پورې ښاسته (ډېره) لاره وه.

انګړ لوى او اوږد و.

هغه په پټو کې يوه غوچنى وليد.

بيا يې د عبدالله نه پوښتنه وکړه.

دا غوچونى مو ولې وېستلى دى؟

هغه و ويل:

دلته داسې آوازې دي چې د تنظيمونو تر منځ جګړې پيلېږي.

مونږ هم دا غوچونى چې ورته بلنداژ وايي وشکاوه.

د جنګ پر حالت کې به دلته پټېږو، تر څو مړه او يا ټپي نه شو.

بيا عبدالله زياته کړه.

دا تر اوسه نه دى بشپړ شوى.

د ده پر سر لرګې، خاوره او سرکې يې ټايرونه ږدو.

بيا په خبرو، خبرو مېلمه خونې ته ورسېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوان شهيد

...............

الته د ننه شوو.

هغه هم خپل ملګري ته بهرني سفر لنډې کيسې بيان کړې.

چای ورسېد.

چای څښلو نه وروسته، هغوی د مېلمه کوټې نه و وتل.

بيا انګړ کې روان او غوچونې نه تېر شوو.

عبدالله آه و باسه او ويې ويل:

هر چېرې روښنايي کېږي.

پر مونږ ورځ تر بلې تياره راځي.

ظلم، ستم، بې برېښنايي، بې روزګاري.

دا ټول د لمړي قدرتونو يرغل او د مشرانو جهالت، بې پروايي، دروغ ويل، جب ډکول او خلک تېرباسل دي.

بيا عبدالله زياته کړه.

توکل په خدای.

دواړه د انګړ نه، و وتل.

هغه خپل کور او عبدالله بېرته انګړ ته د ننه شو.

عبدالله د غوچونې پرا خلو ته دوام ورکړ.

بل ورور يې د باندې نه راغی.

هغه هم الته د عبدالله سره په کار بوخت شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځوان شهيد

...............

ځوان خپل کورته ورسېد.

د مور، خويندو او ورونو سره يې د غوچوڼي پر جوړوني مشوره وکړه.

بيا د عبدالله پر غوچوڼي وېستني هم رڼا واچوه.

ورونو يې و ويل:

د جګړې خو آوازې دي.

کېدای شي منځ ته رانه شي.

بايد کوښښ وکړو د باندې ونه ګرځو.

تر څو د راکټونو پارچې پر مونږ و نه لږېږي.

بيا هغه و ويل:

څه به وکړو؟

مور يې و ويل:

څه چې د خدای رضا وي.

يوه اونۍ تېره شوه.

په ريښتيا هم جګړه پيل شوه.

دا جګړه د جمعيت، واک داره حکومت او اسلامي ګوند کوم چې يې غوښتل په دولت کې برخه واخلي پيل شوه.

هرې خوا به مرمۍ او راکټونه ورېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوان شهيد

...............

د دولت پر طرفدارۍ د دوستم ځواکونه، هم ورسېدل.

هغوی سره توپونه او ټانګونه وو.

ډز او غرپ پيل شو.

خلک، تېښتې ته اړ شوو.

جګړو څو ورځې دوام و کړ.

په سيمې کې يواځې څو کورونه پاتې وو.

يوه هم الته د ځوان کور و.

هغوي په خپل کور کې پاتې و.

هغوی بل ځای يا خپلوان نه درلودل چې الته لاړ شي.

ورځ بله هم تېره شوه.

جګړه و درېده.

اسلامي ګوند غړي په شا شوو.

ډزبند (اوبند) اعلان شو.

خلک ورو، ورو خپلو کورونوته ستانه شوو.

په درې ورځو کې ټولې سيمې بېرته ډکې شوې.

عبدالله هم بېرته خپل کورته راغی.

هغه د تګ (تېښتې) نه پښېمانه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځوان شهيد

...............

دوې مياشتې په آرامۍ سره تېرې شوې.

بيا د جګړو آوازې شوې.

عبدالله ځوان ته و ويل:

د جګړونه خلاصون نه شته.

دا ځل به زه دلته پاتې شم.

د غوچونې (بلنداژ) نه به، ګټه پورته کړم.

ډېره خوارې مو پرې کړې ده.

ځوان و ويل:

ستا خوښه!

مونږ خو د تګ له پاره ځای نه لرو.

وطن کې کور مو درلود.

خو!

په خپل منځي جګړو کې ويجاړ شوی دی.

ماښام، بيا نيمه شپه شوه.

جګړه بيا پيل شوه.

خلکو بيا د خپلو بسترو او کاليو ټولونې، پيل کړ.

جګړه ډيره وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځوان شهيد

...............

خلکو نه شو کولای چې له کورونو، و وځي.

ټول هک پک او بند پاتې شوو.

د تېښتې لاره ورکه شوه.

ورځ بله هم تېره شوه.

راکټونه رانږدې شوو.

شاوخوا پر سيمو لړېدو يې پيل کړ.

يوه راکټ د عبدالله کور ته نږدې ولږېد.

د هغوی د کور شيشې، ماتې شوې.

بيا هغه د کوټې نه و وت.

ټولو ته يې غږ کړ.

راشئ!

ټول راشئ.

بلنداژ ته لاړ شوو.

راکټونه نږدې لږيږي.

بيا هغه منډه کړ.

بلنداژ ته نه و رسېدلی چې بل راکټ راغی او د هغه تر څنګ ولږېد.

دوړې شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوان شهيد

...............

ټولو سوچ کوه چې هغه بلنداژ ته ننوتی دی.

دوړې، لړې شوې.

کورنۍ نورو غړو منډې کړې.

هغوی هم غوښتل چې بلنداژ ته، ننوزي.

په دې وخت کې عبدالله يې وليد.

هغه په وينو لېت پېت وه.

ورور يې منډه کړه او غوښتل يې چې هغه پورته او نږدې ډاکټر کور ته و ورسوي.

د هغه لاس نظم يې و کاته.

د وينې حرکت په رګونو کې يې نه و.

بيا يې لاس د هغه زړه ته وروړ او غوښتل يې چې د هغه د زړه په ډبهار پوی شي.

زړه يې هم د حرکت څخه ولېدلی و.

بيا يې چيغه کړه.

عبدالله مو د لاسه ورکړ.

هغه شهيد شوی دی.

د شا اوخوا کورنو نارينوو منډې کړې.

عبدالله بې حرکته پروت و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځوان شهيد

...............

ځوان هم الته ورسېد.

د هغه په لیدو يې اوښکې پر سترګو جاري شوې.

په چيغو، چيغو يې وژړل.

راکټونه شاوخوا لګېدل.

بيا مشرانو پرېکړه وکړه تر څو هغه ژر تر ژره ښخ کړي.

ځوانانو ژر، ژر د بلنداژ خوا ته قبر و باسه.

ژر، ژر يې د جنازې لمونځ ادا او هغه يې الته ښخ کړ.

بيا ټول، په منډو خپلو کورونو ته لاړل.

د عبدالله کورنۍ غړي هم بلنداژ ته ننوتل.

ځوان د باندې او د دېوال څنډ ته ټوغ، ټوغ روان وه.

يوه بله مرمۍ د کوڅې اړخ ته ولګېده.

په دې وخت کې يوه کس چې په بايسکل سپور او سودا يې کور ته وړه، ده ته نږدې شو.

سر يې وخرخېد.

بايسيکل يې له کنټرول نه و وت.

خپله يې پر ځمکه ولوېد.

بايسکل يې هم چپه شو.

ځوان چيغه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځوان شهید

...............

مرسته!

مرسته!

د مخامخ کور ګاونډ زوی و وت.

ويې ليدل مسافر په لاس کې لګېدلی دی.

بيا دواړه هغه د ګاونډ کور د موټر ګراج ته، کش کړ.

لاس يې ورته وتاړه تر څو وينه تري لاړه نه شي.

بيا لږ الکول يې د هغه پر زخم و واهه.

په دې وخت کې د ګاونډ لور هغه ته د خوږې بورې شربت راوړ.

ځوان هغه ته شربت ورکړ.

هغه شربت وڅښه او لږ پر سترګو يې رڼايي راغله.

بيا يې ځوان ته و ويل:

زما بايسکل خپل کور ته يوسه!

زه هغه نه شم چلوی.

سودا دې هم د تاسو سره وي.

زه ورو، ورو کور ته ځم.

د کورنۍ غړي مې، په تمه دي.

هغه له ځايه پاڅېد او خپل کور خوا ته، روان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځوان شهيد

...............

ځوان ته يې  و ويل:

مننه کوم.

زه اوس کورته ځم بيا سبا بايسيکل او سودا پسې راځم.

هغه لاړ.

ځوان هم کور ته لاړ.

يوه ورځ بله هم تېره شوه.

جګړه لږ سړه شوه.

وخت شپه وه.

سهار وختي خلکو په خپلو کډو بارولو پيل کړ.

هر چا به د سيمې نه تېښته کوه.

ځوان هم د خپلې کورنۍ سره څه کالي تول او وتړل.

تول د کوره و وتل.

دروازه يې تېنګه او کلف يې په ځنځېر کې واچوه.

بيا تول پاخه سړک خوا لاړل.

کوم، کوم راکټ به د هغوی د سر نه تېرېده.

د چاودېدو (انفجار) غږ به هغوی هم اورېده.

سړکونو کې، موټر نه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوان شهيد

...............

خلک په پښو روان وو.

ټولو تېزي، تېزي منډې وهې.

هغوی خدای، خدای کوه چې جګړه بيا زور و نه مومي.

هغوی د ګذرګاه سيمې ته ورسېدل.

د هغه ځای نه تېر بيا پل ارتل ته، نږدې شوو.

د ډزو غږ لړ شوو.

دا سيمه د دولت په کنټرول کې وه.

بيا مخ پر سينمای پامير لاړل.

کدمونه (قدمونه) يې ورو کړل.

د يوې نړېدلي ودانۍ سيوري ته کښېناستل.

خلک ښکته او پورته سرګردانه تېرېدل.

د چاه سره مړي او د چا سره ټپيان هم وو.

ماشومانو به ژړل.

لوڅ سر، لوڅې پښې ټولو به منډې وهې.

هر چا به خپل سر باسه.

د ځوان کورنۍ الته لړ دمه وکړه.

بيا له ځايه پاڅېدل او مخ پر پل محمود خان يې حرکت وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوان شهيد

...............

کوم، کوم موټر به پيدا کېده.

ډېری موټر، چکلې او لاری وې.

خلک به ختل او پر خپلو کاليو به کښېناستل.

هغوی هم يوې چکلې ته، و ختل.

خپل کالي يې هم پورته کړل.

بيا پر خپلو کاليو کښېناستل.

موټر حرکتې وکړ.

اوا توده او د منې ورځې وې.

موټر مخ پر جلال اباد، حرکت و کړ.

پلچرخي تنګي ته، ورسيد.

بيا ماهيپر ته.

د ماهيپر نه هم کښته شوو.

يوه ځای کې يې موټر ودراوه تر څو يې سوړ(يخ) کړي.

خلک، له موټره کوز شوو.

خپل لوښي يې له او بو ډک کړل.

خپل مخ او لاسونه يې، پرېمنځل.

بيا چلونکي غږ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځوان شهید

...............

لاره ډېره ده!

موټر ته و خېږئ.

خلک موټر ته و خاته.

چکلې حرکت وکړ.

یوه نیمه ګړۍ وروسته هغوی سرخکانو سیمې ته ورسېدل.

التله د موټر نه کوز شوو.

په سرخکانو کې د هغه د ترور کور و.

اوا توده وه.

چوپه چوپتیا وه.

د ځینو مرغیو او شاروګانو آوازونه تر غوږو کېدل.

مور یې مخکې او خوېندې وروته یې ورپسې شوو.

د ځوان ترور کور ته ورسېدل.

دروازه یې و ټکوه.

ترور یې دروازې ته راغله.

د خپلې خور، خورزو او خوریانو سره یې روغبړ وکړ.

بیا یې هغوی مېلمه کوټې ته بوتلل.

څو ورځې هغوی التله پاتې شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



...............

بیا یې د خپلې ترور نه وغوښتل چې کومه کوټه هغوی ته ورکړې چې خپل پخلی، ځانته وکړي.

هغې و منه او د کلي نه د باندې خپل ځای یې هغوی ته ورکړ.

هغوی الته اوسېدل.

څه سودا به یې له کابل او څه به یې له جلال اباده راوړه.

ورونو یې په دولت کې دندې درلودې، خو معاشونه یې چندان لوړ نه وو.

ایله، ایله به یې د کور خرڅ برابراوه.

ځمکې یې په جنګونو کې شاړې شوې وې.

نور خلک به هم خپلو سیمو ته ورتلل او خپلې ځمکې به یې آبادوې.

هغوی هم سوچ وکړ چې څرنګه خپلې ځمکي بیا آبادې او ورغوي.

مشر ورور یې کلي ته لاړ.

الته پر خپلې کلا وګرځېد.

هغه په کنډواله بدله شوې وه.

بیا د کلي خان کور ته لاړ.

د هغه کلا سمه، روغه او جوړه وه.

هغه الته د یوې کوټې غوښتنه وکړه.

خان هم ورته یوه کوټه، ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځوان شهید

...............

بیا پر سبا یې هغوی خپلې سیمې ته کډه وکړه.

څو ورځې یې تېرې کړې.

بیا د ځمکو پر آبادولو یې پیل وکړ.

ځمکې له نلونو ډکې وې.

هغوی د نورو کسانو په شان د نلونو پر پرېکونې پیل کړ.

بیا یې ځمکې پر تراکتور واړوې.

غنم یې په کې وکرل.

غنم پاخه او هغه یې و رېبل.

غنم یې پاک او اوړه کړل.

د خوند ډوډۍ تیارې شوې.

شاو اوخوا بیا لې یې و باسې.

بیالېو شاو خوا یې د ولو قلمې کېښودې.

قلمې شنې شوې.

بیا یې د پیسو په غونډول پیل کړ.

څه پیسې یې ټولې او په خپل انګړ کې یې ابادي، پیل کړه.

څلور د توت ونې یې هم په کور کې، کېنوې.

د کلا دروازه هم کېنول شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوان شهید

...............

بیا یې خپل کور ته، کډه وکړه.

څېره یې جوړه او تنور یې کېناوه.

د خوشحالي شېبې پیل شوې.

محتاجي پای ته ورسېده.

ورونو به یوه د بل سره په کروندو کې مرستې کوې.

څه وختونه تېر شوو.

په سیمې کې د کچه (خامه) سړکونو کار پیل شو.

ځوان او د هغه ورونو البته کارونه اومزدوری پیل کړې.

لږ په ژوند کې یې بدلون راغی.

بیا مشر ورور یې واده وکړ.

هغوی جلال اباد ښار ته، کډه شوو.

مشر ورور یې موسسې کې کار وموند.

ځوان هم په کې دنده تر لاسه کړه.

وختونه تېرېدل.

په هېواد کې بې نظمي ورځ تر بلې ډېرېده.

په کندهار کې طالبان وغوړېدل.

هغوی د شر او فساد پر مخ د جګړې اعلان وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوان شهيد

...............

ورو، ورو به يې کلي، باندې، ولسوالي او ولايتونه نيول.

هغوی غزني ته ورسېدل.

بيايې پکتيا، پکتيکا او خوست ته، مخه وکړه.

لږ ځنډ وروسته ننګرهار ته و رسېدل.

الته يې ننګرهار، کنړ، نورستان او لغمان ولايتونه هم و نيول.

بيا يې پر کابل مخه کړه.

ځوان هم د هغو سره ملګرى شو.

بيا وروسته الته په ننګرهار کې پاتې شو.

هغه د معلم اول ګل سره مجاهد شو.

هغه ديندراه او ځيرک شوى و.

هر چېرې چې به ته، الته به يې ساده او بسيطه جومات جوړاوه.

هغه د جمع لمونځ، ډېر طرفداره وه.

کال يې الته دنده، سر ته ورسوه.

طالبانو بيا لوګر ونيو.

بيا کابل ښار ته د ننه او د کابل ټولې ولسوالۍ يې و نيوې.

بله ډله يې پنچشېر او دوېيمه چوپه يې له سالنګه واوښته او هېواد شمالي ولايتونو ته، لاړل.

بيا يې مزار ونيو او شاوخوا سيمو په قبضو بوخت شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوان شهيد

...............

بيا يې بغلان او کندوز ونيو.

پر مخالفينو سيمه تنګه او هغوی ته صرف دوې ولايتونه لکه تخار او بدخشان اودا راز پنچشېر ولسوالۍ پاتې شوه.

جګړه نوره هم توده ولې سخته شوه.

د مقاومت په نامه ډلې او ټپلې جوړې شوې.

د پنجشير لاره بنده شوه.

په بندو سيموکې قحطي او قيمتي خورا ډېره شوه.

طالبانو به، پر تخار ولايت حملې کوې.

د کابل شمالي ولسواليو امنيت هم زيانمن شو.

ځوان خپله ډله جوړه او څو پيک اپې (ډاډ سونې) يې واخيستې او کابل ولايت شمالی ولسواليو ته، عملياتو د پاره لاړ.

توره پګړۍ، سپين کالی، توري څپلی او بنکلی ساعت د هغه سره خوند کاوه.

هغه درې مياشتې الته تېرې کړې.

ډېر سترې او ستو مانه شو.

يوه ورځ يې و غوښتل چې بېرته خپل کورته لاړ شي.

هغه خپلې مور، خويندو او ورونو پسې خپه شوی و.

د مني ورځې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوان شهيد

...............

کابل ولایت او ولسواليو اوا(هوا) مخ په سړېدو شوه.

د انګورو وخت و.

هرې خوا به مرغۍ تلې او راتلې.

مرغيو به کوښښ کوه تر څو ښه او پاخه انګور وخوري.

د باغونو مالکان به راتلل او انګور به يې ټولول.

يوه پر بل اعتماد نه درلود.

طالبانو د ځمکو په مالکانو او د ځمکو مالکانو پر طالبانو.

ځيني وختونه به د هغوی راتګ د طالبانو په نقصان بدلېده.

هغوی ټول ځوانان وو.

تجربه يې ډېره لږه او د جګړو په تاکتيکو، نه پوهېدل.

د سيمې سره هم آشنا نه وو.

د بلې خوا په دري ژبې هم نه پوهېدل.

ځوان تصميم درلود دوې ورځې وروسته خپل کور ته لاړ شي.

څو ورځې هغه په جګړو کې تېرې کړې وې.

ډېر ستومانه و.

د يوې پولې خوا يې ځادر وغوړاوه او خپل ملګري ته يې و يل:

ما ته خوب راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوان شهید

...............

ته د سیمې خیال کوه چې څوک مو غافلګیره نه کړي.

بیا به مونږ ټول و وژل شوو.

هغه و ویل:

سمه ده!

بې غمه بیده شه.

زه او نور الکان به څارنه وکړو.

هغه بیده شو.

څو دکیکې لا نه وې تیرې شوې چې یوه غټ مار هغه ته نږدې شو.

ملګرې یې مار ولید.

هغه پر غونډه واره وکړ تر څو هغه لاره بچه او ځوان ته ضرر و نه رسوی.

مار ډیر شخ سترګی و.

د ځوان پر لور روان و.

ملګرې یې توپک واخیست او د مار پرسر یې ډز کړ.

ځوان شټ واهه او پاڅېد.

ګوري چې ملګری یې د هغه سر ته ولاړ دی.

ځوان و ویل:

څه پیښه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوان شهید

...............

ملګري يې و ويل:

ګوره مار ته.

هغه ستا خوا روان او چې هر څه کوښښ مې وکړ بلي خوا لاړ، نه.

بیا مجبوره شوم هغه و ولم.

ځوان و ويل:

مننه کوم.

بیا يې سر کېښود.

ملګري ته يې و ويل:

پام کوه.

هغه و ويل:

سمه ده!

ماښام او بیا ماسخوتن شو.

هغه په خپله راويش شو.

د شپې ډوډۍ تیاره وه.

هغوی د کچالانو(الوګانو) پیاوه پخه کړې وه.

نه يې مزه وه او نه تزه.

يو يې هم په دیګي پخولو(آشپزۍ) نه پوهېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځوان شهيد

...............

صرف چاره سازۍ به يې کوه او خېټې (نسونه ) به يې پرې ماړه کول.

بله ورځ هم الته تېره شوه.

الته نوي ځوان طالبان ورسېدل.

هغوی سره سټرې مشې و کوې.

شپه او سهار شو.

نوي طالبان په مرچلو کې پاتې او زاړه خپلو کورونو ته روان شوو.

ځوان هم د خپلو ملګرو سره جلاباد خوا ته، حرکت وکړ.

غرمې ته، الته ورسېدل.

خپلې قطعې ته د ننه شوو.

موټر يې ودرول.

ثقيله سلاوې يې تسليمې کړې.

سپکې يې له ځانو سره واخيستې او خپلو سيمو ته لاړل.

ځوان هم په يوه موټر کې کښېناست.

هغه لغمان ولايت، قرغيو ولسوالی ته لاړ.

کورته ورسېد.

مور يې د کلا مخې او لويې بيالې پر غاړه ناسته وه.

سړک خوا يې کتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځوان شهيد

...............

داسې ښکارېدل چې هغه خپل زوی په انتظار وه.

ځوان پوخ سړک کې د موټر نه کوز شو.

مخ پر کور يې حرکت وکړ.

ګامونه يې تېز، تېز اېښودل.

کورته نږدې شو.

پر مور يې سترګې ولګېدي.

مور خوا يې منډه کړه.

مور يې له ځايه پاڅېده.

ځوان يې په غېږ کې و نيو او مخ يې ورته مچو(چپ) کړ.

هغه هم د خپلې مور لاسونه مچو(چپ) کړل.

بيا د مور سره يوه ځای کور ته، د ننه شو.

خور يې تناره پر سر وه.

د هغه غږ په اورېدو سره له ځايه پاڅېده او هغه سره يې ستړي مه شي وکړه.

ورونه يې په کور کې نه وو.

يو يې په جلال آباد، بل په کابل او دريم يې په پېښور کې و.

څو شپې يې په کور کې وکړې.

بيا بېرته خپلې قطعې ته لاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوان شهيد

...............

هغه څو ځل (پلا) کابل ولايت ولسواليو ته د جګړې له پاره لاړ.

هغه ډېر زړور و.

د هغه نه وغوښتل شو تر څو تخار ولايت ته، لاړ او التـه جګړې کې ونډه واخلي.

هغه د خپل د خوښې کسان د لغمان او ننګرهار ولايتونو نه ټول کړل.

پيک اپې(ډاډسونې) يې کتارې او د کور مخ ته، نږدې سړک کې يې ودروي.

بيا کورته د ننه شو.

خپله سپينه پګړي يې وتړه.

بيا يې مخابرې او سپين بيرغونه واخيستل.

د مور سره يې خدای پاماني وکړه او سړک ته لاړ.

التـه يې مخابرې پر کسانو و ويښې.

بيرغونه يې پر موټرو وځلول.

بيا يې په ياد شو چې له خوره يې خدای پاماني نه ده اخيستې کومه چې د هغه د تره کور ته تللې وه.

هغه بيا وګرځيد او د خپلې خور نه يې هم خدای پاماني واخيسته او سړک ته لاړ.

د پيک اپو (ډاډسنو) شا ته طالبان ناست وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځوان شهيد

...............

بيا د الله اکبر پر ويلو يې موټر چالان او د سيمې نه په وتو شوو.

مور يې هم مخ قبلې دروازې په اړخ کې ولاړه او د هغه ننداره يې کوه.

څه ځنډ وروسته موټر پناه او مخ پر کابل يې حرکت وکړ.

شپه يې کابل ته وروسوه.

د امنيت په ودانۍ کومه چې د ايران سفارت څنټ کې شتون درلود، ځانونه ورسول.

موټر يې پارک او کسان يې ټول ودانۍ ته د ننه شوو.

شپه يې الته تېره او سهار شو.

سهار  دهغه ورور کوم چې په کابل کې اوسېده، هغه ليدو ته لاړ.

ځوان د هغه سره روغبړ وکړ.

بيا ورور يې هغه نه غوښتنه وکړه چې عملياتي کارونه پرېږدی او کور کې و وسي، ځکه مور او خور يې يوازې دي.

هغه و ويل:

دا ځل خو ځم.

د بل ځل له پاره به سوچ وکړم.

ملګرى مې هم ښه جګړه نه کوي.

په خولې، هرڅه وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوان شهيد

...............

خو!

په عمل کې پرې باور نه شي کېدای.

ورور يې ورته هرڅه عذر او زارۍ وکړې.

هغه و نه منه.

هغه و ويل د دا ځل راتګ نه وروسته به، بيا کومې جبهې ته، نه ځي.

البته به په سيمې کې د مور او خور سره اوسيږي.

ورور يې ډېر خپه او د کوټې نه و وت.

هغوی البته بله شپه هم وکړه.

سهار وختي د نورو کسانو سره يوه ځای کوم چې د پکتيا ولايت نه راغلی وو.

کتار(قطار) جوړ او مخ پر سالنګ يې حرکت وکړ.

ورځ وروسته کندوز ته ورسېدل.

بيا تخار ته لاړل.

جګړو بيا زور واخيست.

شپه او تياره وه.

څه نه ښکارېدل.

جګړه مخې ته تله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځوان شهيد

...............

د ځوان سره ثقيله ماشنګړې هم وه.

سپين کالی يې پر تن او سپين لنګوټی يې پر سر و.

هغه به پر ملګرو غړ کاوه.

د تېښتې (فرار) لاره نه شته.

مه په شا کيږي!

دشمن په تېښتې دی.

په دې وخت کې ډزې غلې شوې.

هغه پر سر لګېدلی و.

سپين کالي يې پر سرو وينو رنګ و.

طالب ملګرو يې هغه يوازې پرېښودلی و.

هغوی له جبهې نه په ښتڼ شوې وو.

شپه تېره شوه.

سهار د کوچيانو رمو سيمې ته لاړل.

هغوی يوه ښکلي ځوان مړی وموند کوم چې پر سر لګېدلی اوشهيد شوی و.

ژر يې د طالبانو پوستې ته خبر ورکړ.

هغوی راغلل او پر ژړا يې پيل کړ.

څه يې له لاسه نه راتلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوان شهيد

...............

کار ختم شوی او هغوی ډېر پښېمانه وو.

هغوی سوچ کاوه چې ځوان به بېرته په شا شوی وي.

خو!

سوچونه غلط ثابت شوو.

ځوان له دې نړی لاړ.

بيا يې مړي ژر تر ژره کابل ته ولېږداوه.

د هغه سره څو نور ملګرې يې هم وو.

مړی يې بيا په چورلکه کې کېښودل شو او لغمان و لایت قرغيو ولسوالۍ کې يې کوز کړ.

بيا يې په بلې پيک اپې (ډاډ سونې) کې کېښود.

څه اوړه، غوړي او نور شيان يې هم په پيک اپې (ډاډ سوني) کې واچول.

ورسره پېژندو کسانو سره يې د هغه کورته ولېږه.

موټر کور مخې ته ودرېد.

خور يې دروازې ته و وته.

په ډاډ سونې کې مړی وه.

طالبان هم خپه وه.

هغې د يوه طالب نه پوښتنه وکړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوان شهيد

...............

دا مړی مو څه د پاره دلته روړی دی؟

يوه طالب و ويل:

خوري!

نارينه په کور کې شته؟

هغي و ويل:

نه!

دوې خويندې او مور مې را سره ده.

مړی په تابوت کې و.

بيا بل طالب د موټر نه کوز شو.

اوا دېره توده وه.

د زمري مياشت وه.

پر هغه هم خولې جاري وې.

لرې نه بل کس روان و.

د هغه پر شا د وابنو پنډ و.

هغه ته نږدې شو.

قضيه يې هغه ته بيان کړه.

هغه ځوان پېژانده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځوان شهید

...............

د هغه د مرګ پر خبر په ژړا شو.

پنډ یې پر ځمکه وغور ځاوه.

موټر ته یې منډې کړې.

بیا د هغه مور ته یې و ویل:

الکان چېرې دي؟

هغې و ویل:

یوه په کابل، بل جلال آباد او درېیم په پېښور کې دی.

بیا کس و ویل:

ځوان!

هو!

ځوان شهید شوی دی.

د الله رضا ده.

بیا چیغې شوې.

هر خواوو نه کسانو منډې کړې.

تابوت یې د موټر نه کوز کړ.

خوراکی شیان یې هم د ډاډ سونې نه بنکته کړل.

تابوت او شیان یې کور ته د ننه کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځوان شهيد

...............

په هغه وخت کې غوږکي (ټېلفونونه) نه وه.

خلکو دندې واخيستې چې خلک خبر کړي.

څه ځوانان لاړل تر ځوقبر و باسي.

هغه ته يې يوه ښکلې قبر د خداى (خدا) جان با با زيارت کې و باسه.

ورځې لويې وې.

خپل او ځپلوان راورسېدل.

مشر ورور يې هم د جلال آباد نه، ورسېد.

د جنازې ترتيبات و نيول شوو.

د هغه مړى هم ځو ځل د کور نه د باندې بيا بېرته د ننه شو.

کور د ښځو نه، ډک و.

نارينه به راتلل او د هغو د پاره به يې تابوت د باندې باسه او بېرته د ننه کاوه.

د هغه مشر ورور کابل ته خبر ولېږه.

خبر رسونکي يوه معلم و چې مېني بس موټر يې درلود.

د ځوان ورور په زاړو مکرويانو کې اوسېده.

کس دروازې ته ورسېد او دروازه يې وټکوه.

د ځوان ورور دروازې ته و وت.

د معلم سره يې روغبړ وکړ او هغه ته يې و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځه!

کورته راشه!

اوا(هوا) توده او يوه پياله چاى به وڅښې.

هغه و ويل:

نه!

مننه کوم.

غواړم د سبا له پاره نوبت ونيسم.

بيا بېرته جلال آباد ته ځم.

بيا هر څه د ځوان ورور و ويل:

هغه و نه منه.

بيا يې زياته کړه.

زه د يوه خبر په هکله دلته راغلى يم.

د ځوان ورور و ويل:

ښه خبر او که بد خبر؟

هغه و ويل:

بد خبر.

بيا د ځوان ورور و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځوان شهید

...............

ځوان شهید شوی او که مور مې وفات شوې ده؟

هغه و ویل:

ځوان شهید او نن يې دوېيمه ورځ ده.

سبا يې درېيمه او د خیرات ورځ ده.

ته يې لغمان ته غوښتی يې.

بیا د هغه په سترګو کې اوښکې و څرخېدې .

له زينو کوز او ژر خپل موټر ته وخوت او لاړ.

ښځې يې د دروازې تر شا (څټ) غوږ نیولی و.

هغه هم په ژړا وه.

وخت مازيګر او د تګ امکان ډېر لږ وه.

بیا د ځوان شهيد ورور پل محمود خان ته، لاړ.

غوښتل يې چې موټر د سهار له پاره بيانه کړي.

په دې وخت کې د هغه ملګري خپل موټر ودراوه او هغه ته يې و ويل:

ولې داسې لالهانده ښکارې؟

خيريت خو به وي؟

هغه ورته کيسه بيان کړه.

ملګری يې هم ډېر خپه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځوان شهيد

...............

بيا يې خپل چلونکي ته و ويل:

سهار ملا آذان د ځوان شهيد وروړ کورته لاړ او هغه خپل وطن ته، ورسوه.

تر څو چې هغه الته وې، ور سره پاتې شه.

هغه د خپل ملګري نه مننه وکړه.

بيا د ځوان شهيد وروړ يې تر کوره ورساوه.

شپه يې خوب، و نه کړ.

هغه سهار وختی د خپلې کورنی سره، لغمان ته لاړ.

مړی ښخ شوی و.

هغه د درېيمی خيرات پر ورځ ورسيد.

څه نور خپلوان د کابل، جلال آباد او پيښور نه ورسيدل.

د فاتحې مراسم تر سره او د قرآنکريم ختمونه هم وشوه.

ماسپښين شو.

هرکس په خپلو موخو پسې لاړل.

ورځ بله تېره شوه.

دوې ورونه الته وو.

درېيم يې هم له پيښور نه راورسيد.

هر څه ختم شوي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوان شهيد

...............

ژړا هم کومه کټه نه درلوده.

بیا ورونو پسې جمعه ګي ختمونه کوه.

څلور جمعې تېرې شوې.

بیا ورپسې لوی ختم يې وکړ.

د قرآنکريم ختمونه هم، تر سره شوه.

بیا هغه قبر ته پنچره فرمایش ورکړه تر څو د نورو قبرونو نه، توپیر وشي.

پنچره کېښول شوه.

پر هغه سپين بيرغونه بند او ورپول شوو.

خلک هرې خواوو نه د دعا له پاره راځي.

ځوان په هغه وخت کې پوره شل کلن و.

ځواني، ښایست او جرات هغه ته خدای ورکړی و.

هر چا به د هغه پر کردار، اعمالو او نېکو اخلاقو افتخار کوه.

څه وخت تېر شوه.

طالبانو خپل حکومت له لاسه ورکړ.

بهرنيان راغلل او وطن يې ونيوه.

څه موده نوره هم تېره شوه.

دهغه مشر ورور واده وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوان شهيد

...............

بيا کوشنۍ خور يې هم واده شوه.

بيا بل ورور يې هم واده وکړ.

جنګونه او جګړې بيا پيل شوې.

د ورځې په لس هاو ځوانان به شهيدان کېدل.

په خلکو لودن ورک شو.

هره ورځ به جنازې او فاتحې وې.

پوره شل کاله تېر شوو.

طالبان بيا واک ته ورسېدل.

د ځوان شهيد او نورو شهيدانو ارمان پوره شو.

بهرنيان و وتل.

دز اودوز ختم شو.

خوشحالی راغله.

د طالبانو حکومت نه درې کاله هم تېرشو.

هرې خوا بيا سپين بيروغونه رپېږي.

خو!

د ځوان د لاس سپين بيرغ د تل له پاره پر ځمکه پرېوت.

**پای**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د چاپ شویو کتابونو لیست

۱. معماری افغانستان
۲. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری
(بخش شفاخانه ها)
۳. راهنمود طلايي
(برای اساتید انستیتوت های تخنیکي و ساختمانی افغانستان)
٤. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد اول
٥. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد دوم
٦. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش اداری)
۷. معماری اصیل شهر کابل (مرادخانی)
۸. معماری شهر کابل (بی بی مهرو)
۹. افغانستان در قرن تکنالوژی
۱۰. زونبندی اقلیم و زلزله افغانستان
۱۱. صدقه جاریه / دنیای انجینری
۱۲. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد اول (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۱۳. داستان حقیقی با مقیاس معماری
١٤. فرار از کشور- با تصاویر مستند
١٥. نقش دانشمندان مسلمان در فن معماری و مهندسی
١٦. پخسه در افغانستان
۱۷. بنیا نگذاری اولین مساجد توسط افغانها در آسترلیا
۱۸. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد دوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۹. منار جام - الهامی برای قطب منار
۲۰. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد سوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۲۱. جام یا کلیان ( کلان)
۲۲. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد اول
۲۳. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد دوم
۲٤. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد سوم
۲٥. چېر ته چې قانون نه شته (ګډوډي د افغانستان په معمارۍ کې)
۲٦. مډرنه جوما تونه ,, پخوا او نن ،،
۲۷. هله جور کو (نی پخسه – مقاوم زلزله)
۲۸. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مساجد)
۲۹. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مکاتب)
۳۰. هنر و صنعت چوب در مرادخانی
۳۱. هنر و پیشه حکاکي - زرگری در مرادخانی
۳۲. هیچ (چهل داستان واقعی)
۳۳. معماری اصیل شهر کابل
(تشریح مورخ ۱۷ ماه میزان سال ۱۴۰۱ پوهنتون پولی تخنیک کابل)
۳٤. ۴۰- چهل
۳٥. مجنون او ګلچین (پښتو ناول)
۳٦. در جستجو (ناول به زبان دری)
۳۷. تفاوت ها تفاوت می آورد (کتاب تصویری)
۳۸. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



(جلد اول)
۳۹. برف ها آب ميشود
۴۰. رسم و تخنيک (گامی به سوی دنيای انجينری) جلد سوم
۴۱. آرزو و اميد (ناول به زبان دری)
۴۲. بوډا ښکاري (پښتو ناول)
۴۳. نامنوني ژوي (پښتو ناول)
۴۴. د اسلامي معماری پيل
۴۵. حيوانات شوخ ( ناول به زبان دری)
۴۶. مجموعه از دروس دينی مولوي صاحب خيرالله مخدوم (جلد دوم)
۴۷. د شيپلی مينه (مه ينه) په کچه ګړی کې (پښتو ناول)
۴۸. حشمت خان د کلا معماري
۴۹. د افغان الک او آذري جلی مينه (پښتو ناول)
۵۰. د وچو بنونه او پارکونو معماري
۵۱. د يوې ښونکې مينان په يوه ټولګي کې (پښتو ناول)
۵۲. د ژرنده ګرې ماما مينه (پښتو ناول)
۵۳. په اسلامي نظام کې ودانيز پرمختګ
۵۴. شپنه ادې (پښتو ناول)
۵۵. بې زده کړې پوی (پښتو ناول)
۵۶. د مينې تاو (پښتو ناول)
۵۷. (BIM) په خپله ژبه - په نړی کې تر ټولو نوې او ګړندی کړنلاره د معمارانو او اينجينېرانو(انجينرانو) له پاره
۵۸. مجموعه از دروس دينی مولوي صاحب خيرالله مخدوم (جلد سوم)
۵۹. سيدو او عيدو - د کوشنيوالي خواږه ملګري (پښتو ناول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶۰. د يوې مياشتې ناوې (پښتو ناول)
۶۱. دڅاڅکو هار (د يوه سړی لنډې کيسې)
۶۲. د کابل ښار اصلي معماري (مراد خانی)
۶۳. کوشنۍ سوداګره (پښتو ناول)
۶۴. د کابل ښار معماري - بي بي مهرو
۶۵. سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
۶۶. ړاړونکی سيلاب ( پښتو ناول)
۶۷. خواريکښ قاضي (پښتو ناول)
۶۸. د پخوانيو جوماتونو توپير د نن سره
۶۹. د مور وژونکی (قاتل)، (پښتو ناول)
۷۰. د مور مينه (پښتو ناول)
۷۱. مجموعه از دروس دينی مولوي صاحب خيرالله مخدوم (جلد چهارم)
۷۲. لېونی ملا (پښتو ناول)
۷۳. ځوان شهيد (پښتو ناول)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوان شهید

...............

**د کار لاندې کتابونو لېست**

۱. هنر خطاطی و میناتوری در مراد خانی
۲. هنر کلالی در مرادخانی
۳. بې وخته سېلاب (پښتو ناول)
٤. ملا نصرالدین سره د دوکې(پښتو کیسه یا داستان)
۵. بې وخته باران
۶. د ژوند پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوان شهيد
...............

## د امکان او وخت په صورت کې

۱. پخسه در افغانستان (به زبان انگلیسی)
۲. تاریخ معماری افغانستان
۳. حویلی های آسمان خراش
٤. ارتباط گذ شته، حال و آینده در معماری
٥. استعداد، سرعت و اقتصاد در معماری افغانستان
٦. شیطان چراغ
۷. خاطره ها

(c) ketabton.com: The Digital Library

# young martyr

Written by: Architect PHD Hashmatullah Atmar

Date: May - June /2026

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**